SPINTA

# د لایق شعر او شاعري

له دې لیکنې څخه څو ورځې د مخه زما یو پخواني دوست او یاغي ملګري داکټر لطیف بهاند له مسکو څخه ټیلفون وکړ او د معمول په څېر له خبرو وروسته مو په ادبیاتو بحث پیل کړ . ما ورته د روان کال د اګست په ۱۲ نیټه د لایق صیب د شعر د غونډې یادونه وکړه چې په لندن کې افغان ټولنې ( هارو ) جوړه کړې وه :

بهاند له ما وپوښتل : آیا ستا شعر خوښېږي ؟

ما ورته وویل لکه چې زما په انسانیت کې شک‌ځ کوي ؟

ـ نه ما دا پوښتنه ځکه وکړه چې که شعر دې خوښېږي نو ولې یې نه وایې ؟ او د لایق د شعر په باب څه نظر لرې ؟

ما ورته بې سنجشه وویل :

لایق او شعر ، شعر او لایق په دوه کلیموکې یو مفهوم دی. زما خو شعر ، په تېره د لایق شعر دومره خوښ دی چې زما په تن او روان کې یې د شعر ویلو هڅه وژلی ده . له شعر سره زما مینه تل د دې سبب وه او ده چې زما تنده زیاته کړي او هېڅکله یې « خیشت شعرونه » نه شي ماتولی . او بل دلیل دا دی چې ځکه یې زما په تن او روان کې د شعر ویلو مینه ورلې ده چې زه نه شم کولی د لایق په څېر او یا اقلاً ښه شعر ووایم نو ځکه د شعر پرښتې ته په درناوي سره غواړم شعر واورم او هغه هم د لایق شعر او یا د بل شاعر ښه شعر . نو دا شعر ته زما د درناوي یو دلیل دی . هیله ده چې د شپون خبره د « خیشت شعر » ویونکې هم لږه حیا او د شعر پرښتي ته درناوي وکړي .

بهاند وویل : نو د لایق صیب په اوسنیو شعرونو څه نظر لرې ؟

ما ورته وویل : سپرغکې یادوي :

هغه وویل : داسې یې واخله .

ما ورته وویل : ښې څلوریزې دي . په زړه پورې دي . خو

SPINTA

ځيني مشخصات لري. بيا هغه په ټينګه د دغه ځانګړنو د ليکلو غوښتنه وکړه. په دې اساس په دې ليکنه کې ټولو ځانړنو ته نه بلکې يو لړ هغو ته اشاره ده. دا کومه څېړنيزه مقاله نه ده. يوازې يو نظر دی چې کېدای شي چا ته د منلو وړ وي او چا ته هم نه...

۲

خوشحال بابا په پښتو ادب کې د ډېر ستر او په زړه پورې شعري ارزښتونو د هستولو خاوند دی چې راتلونکو نسلونو ته يې په ميراث پريښې دي. د خوشحال بابا په کلياتوکې يو په زړه پورې شعري فورم د هغه رباعيات دی. خوشحال خټک په دغه رباعياتوکې د خپل ژوند، تجربې، فکري حالت، خپله خبره او د خپل شخصي ژوند يوه نيمه شيبه او لحظه بيان کړېده. په دې رباعياتوکې خوشحال خټک د پښتونولې ارزښتونو، د پښتون ميړانه، د ميړه خصايل او هوډ بيان کړی دی. خو کله چې انتقاد او نصيحت ته خبره راغلی نو خبره ترې بربنډه شوېده او د يوه خان له دريځه يې پښتون ته د سپوري ستغې هم ويلي دي. خو اوس چې کلونه او پېړۍ له دغو شعرونه اوښتي دي د هغه «صريح ژبه» چې دشعرپه نسبت يې دصراحت مالګه زياته ده. هم معنوي ارزښت دی او شعري جوهر لري دا ځکه چې د هغه شاعرانه نصيحتونه د اولسونو د ارمان او نصب العين په يوه برخه بدل شوي دي چې پېړۍ پېړۍ يې ورته مبارزه وکړه او روانه ده. کله هم پر شعري ژبې صراحت غلبه کړې ده. په قهر شوي او په څرګندوالفاظواوکلماتويې خپل مطلب بيان کړېدي. څومثالونه يې دا دي:

الف: پښتون ته

دا منصبـــــونه دا انعـــــامونه
واړه زنـدی دي واړه دامـــــونه
پښتون مغل به سره دوستان نشي
خوشحال يې مه وينه دا اکرامونه

SPINTA

تیرا مې ولیده راغلم تر سواته
پښتون مې ولیده دا لوی لوی ذاته
عقل همت مې له چا و نه لیده
په بیارته راغلم ناست یم ماته

ب : د عمر او ځوانۍ ارمان :

ته چېرته لاړې د لوبو وخته
ته چا تالا کړې د ځوانۍ رخته
پیرې وکړې راباندې چارې
فولادي توره یم خورلې پروته

ځواني مې لاړه په غفلتونه
په عسرتونه په شدتونه
لولۍ چې راله شي تسپې په لاس واخلې
هسې مې اوس دي دا طاعتونه

ږیره دې سپینه شوه ځواني دې ولاړه
وګور ته لاړل همزولي واړه
اوس دې د غمه سره ژوندون دی
ژاړه خوشحاله خټکه ژاړه

خوشحاله مه یې په زوی والي ویاړه
هم ځینې مهر او وفا مه غواړه
هر چه زوولی دی د توتیا له نسه
د پدر کشو په بوي دي واړه

په نظام پور کز په سوسو سوسو
قمري نارې وهي چې کوکو کوکو
تل به د خوړې په بڼ کې نه وو
وایې دا هسې په ځوځو ځوځو

SPINTA

ج: میره او هوډ:

د مـــــرد چې نه وي لمن خیرنه
پاک وي په ژبه پاک وي په ژمنه
که زر بـــلا وي اندوه دې نه کا
فرښتې به واړوي بـــلا له ده نه

۳

د خوشحال په شعرکې د «میرانې» صفات برجسته کېږي. د نامردانواو موږیانو رټنه او غندنه کېږي. د پښتنو د بې عقلي حیرانېږي. افسوس کوي، د خپل عمر او ځوانی په تللو افسوس کوي. د مغلو او پښتنو روابطو ته ګوري او پښتنو ته خبرداري ورکوي، له خپل زوی نه سر ټکوي او داسې نور.

خو له دې پټولو سره سره بیا هم خوشحال په زغرده خبره کوي او د خانی دریځ هغه ته دا جرأت ورکوي چې په بې پروایې سره خبره وکړي او غیر شعري مفاهیمو او کلماتو ته شعریت ورکړي. لوستونکې او اورېدونکې ته یو لړ حقایق تداعي کړي. نو ځکه خو «غیر شعري» کلمات او مفاهیم د خوشحال په شعرکې شاعرانه روح او ښکلا پیدا کوي. دا سنت غني خان هم خپل اوج ته رسولی دی.

خو کله چې د لایق په باب خبرې کوو نو څه وینو؟

لایق اوس د خوشحال پر مسند ناست دی. هغه ته اروپا «رنتبور» دی او د هغه واقعي شعري میراث خور بلکې دا به هم مبالغه نه وي که ووایو، دی د هېواد د ټول پښتو او فارسي کلاسیک ادب ښاغلی وارث دی او په سپرغکې کې یو تهور کوي. د محافظه کارۍ او کانزروتیزم څخه ووځي او د «حالت د بدلون» په بهانه ځینې داسې څه وایي چې په نثرکې نه شي ویلی. هغه اصیلو پښتو مفاهیمو ته چې په خاص قهري حالت کې کارول کېږي د شعر قبا وراغوندي او ساده په کې پوه کوي.

د لایق سپرغکې د یو لنډ زماني واټن د یاس، خپګان، قهر، ناخوالو، ناامیدیو او شاعرانه احساس ښکارندوی دي. په دې

څلوېزوکې هغه د هېواد، د مهاجرت، خلکو، جنګونو، انقلاب، مجاهدینو او جهاد او نورو مسایلو په اړوند خپلې اندیښنې او مفکورې څرګندې کړي دي.

په څلوریزوکې هغه بربنډ کلمات کاروي و لوڅې خبرې کوي. کله چې هم شهریت غلبه کوي شعریت له لاسه ورکوي. کله هم فلسفي لارښوونې کوي، حکمونه کوي، پرېکړې کوي، پرېکړې دریځ غوره کوي او خپلو سیاسي مخالفینو ته سپوري او ستغنې وایي.

په دې څلوریزوکې د ژوندانه د تللو یاس او نا امیدی څرګندېږي، د هېواد، خلک او انقلاب ستاینه کوي، پوښتنه را منځ ته کېږي چې آیا دلته شعر په شعار نه بدلېږي؟

د شعر او اشعار خبره زموږ په معاصرو ادبیاتو کې لږه ناسمه توجیه شوې ده. دا مفاهیم یو ډول کره کولو ته اړه لري چې په دې مقاله کې یې نه شو کولی په تفصیل پرې وګړېږو، خو تر کومه ځایه چې د لایق شعر په باب اړه لري نو باید ووایو چې د لایق شعر په تېرو څو لسیزو کې تل د نسلونو او ټولنو د خولې ورد وه. که داسې نه ده؟ داسې زیات مثالونه لرو چې د دې مقالې له حوصلې بهر دي. همدارنګه د دې اثر د ځینو څلوریزو په اړوند هم دا خبره صدق کوي. کېدای شي ځینې خبرې وخت ته پرېږدو چې په راتلونکې زمان کې ورسره نور نسلونه څه کوي؟

بله دا چې لایق له خوشحال بابا وروسته لمړنی وتلی او نتلی شاعر دی چې په دې کچه او په دې رنګینیو او ډولونو سره یې پښتو څلوریزې یا رباعیاتت هست کړي دي.

۴

د ژان پل سارتر فرانسوي فیلسوف او روښانفکر د هغو کسانو له ډلې دي چې د کمونستي لیکوالو برسیره یې تر هر چا زیات د لیکوال د مسوولیت او رسالت اوژمنتوب په باب خبرې کړې دي. نوموړي له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته په روښانفکري ټولنوکې د ادبې تعهد ا مسوولیت مسله وغزوله او

د دې لپاره چې هغه ته فلسفي بستر ورکړي نو « ادبيات څه شی دي ؟» اثرېي وليکه. نوموړي (سارتر) په خپل اثرکې آزادي، عمل او مسووليت سره موازي او برابر بولي. د هغه په نظر ليکوال څرنګه عمل کوي؟ هغه ځواب وايي چې د ليکلو له لارې عمل کوي. هغه يعني د خبر و ويلو او ليکلو له لارې عمل کوي او نړۍ او چاپيريال بدلوي. نو څرنګه چې عمل کول له آزادۍ سره رابطه لري، يعنې دا داسې غوراوي او انتخاب دی چې د امکاناتو څخه تر لاسه کېږي، نو له مسووليت سره هم اړيکې او پيوند لري. ځکه چې د هغه په باور د مسووليت لرلو د آزادي د عمل او مسووليت منل لازم وي. نثر ليکونکې هغه څوک دی چې د سارتر په نظر دويمه عملي تګ لاره غوره کوي چې دې ته د څرګندولو او افشا کولو عمل وايي. نو سمه دا ده چې پوښتنه وشي چې ليکوال په خپله آزادۍ سره او په خپل مسووليت سره د نړۍ او چاپيريال کومه منظره روښانول غواړي او څه ډول بدلون راوستل غواړي.

نو که چېرې ليکوال د نړۍ داسې منظره څرګنده نه کړي. نو کېدای شي دا پوښتنه ترې وشي چې ولې يې سکوت غوره کړی دی؟ او ولي په دې برخه کې بدلون راولي او په هغه بله کې نه؟ د سارتر دغه نظر د نثر ليکونکې او يا داستان او درامه ليکونکې په باب دی خو د شعر په باب هغه بل څه واي:

د سارتر په نظر ليکوال او شاعر دواړه د ژبې سره سروکار لري، خو دواړو چلند بيل دي. سارتر، شاعر له مسووليت څخه ګوښې بولي. هغه وايي: « دا سمه ده چې نثر ليکوکې يې ليکي او شاعريې هم ليکي، خو دا دواړو ډولونو د ليکو تر منځ توپير موجود دی. ګډه وجه يې يوازې د لاس خوځښت دی چې کلمات پرې ليکي. پر دې سر بېره د ده نړۍ او د هغه سره جلا دي، هغه څه چې د يوه لپاره رښتوني او د بل لپاره نه دي.» د سارتر په باور شاعران خبرې نه کوي خو چوب هم نه پاتې کېږي. د هغوی پيغام جلا هغه دی.

سارتر، شعر يو ښکلی اورلوبه بولي چې په کلماتو سره

تر سره کېږي. سره له دې چې د سارتر په نظر د ليکوال په نسبت شاعر مسووليت منلو ته غاړه نه ږدي. دا ځکه چې شعر د «هايدگر» په عقيده معصوم موجود دي.

د سارتر په نظر شاعر د بشري اعمالو په کلي ماتې باور لري او داسې لاره غوره کوي چې پخپله ژوند کې ماتې وخوري. نو د خپل فردي شکست له لارې د عمومي بشري ماتي خبرداري ورکوي. د سارتر په عقيده د شعر حکم يو ډول لوبه ده چې هر چا بايلو ده نو گټونکې شو. اصيل شاعر هغه دی چې د دې لپاره چې ورونکې شي، ماتې که د مرگ په بيه هم وي، مني يي.

سارتر يوه بله خبره هم راپورته کوي او هغه د شاعرانه ليد خبره ده. د هغه په نظر د انسان د ژوند يو بل اړخ ماتې او شکست دی. انسان بايد دغه ماتې د خپل شته والی د بنسټ په توگه وپيژني. که د عمل له لېد نه تېر شو نو هغه په دې محکوم دي چې هغه ټوله نيستي ده. په دې ډول موږ انسان ته په تراژيک لېد گورو. تراژيک لېد او شاعرانه لېد سره يو شي دي.

سارتر وايي د شاعر هدف دا نه دي چې ماتې او شکست نړيوال مسير ته داخل کړي. حقيقت دا دي چې د هغه سترگې يوازې ماتې او تباهي ويني. شاعر يوازې د ماتې سندري نه وايي بلکې د ماتې په لېدلو سره له هغه تېرېږي او په بل اړخ کې د انسان دماتې خورونکې ذات سره مخامخ کېږي او پخپله يوه شيبه کې د انسان د ژوندانه يوه شيبه احساس کوي.

٥

د سپرغکې ننداره:

د پښتو د کلاسيک ادب د رباعي په فورم کې شعري ټولگه ده. دا فورم د پښتو غزل سره په عاميانه تعريف کې يوشان برېښي. استاد بينوا په ادبې فنون کې رباعي هغه فورم بولي چې شاعرانو د پند او نصحيت له پاره کارولی وي او په غزل کې عاشقانه مطلب بيانېږي. په وزن کې هم توپير لري. د خوشحال بابا په کلياتوکې ښايسته غټه برخه د هغه د رباعياتو ده، هغه رباعيات،

پند ، نصیحت او ګوتې نیوی یا انتقاد ته هم وقف کړی دي. د پارسي ژبې د مشهور شاعر ، خیام رباعیات هم ډېر مشهور دي. نوموړې رباعیات د فلسفي افکارو د بیان لپاره کارولی دي.

لایق هم خپله فلسفه او د ژوند لاره او ښوونځي په خپلو رباعیاتوکې ځای کړی دی. خو د خیام رباعیات دومره متنوع مطالب نه لري. هغه د نوموړي شاعر د لېد توګې ننداره ده. خو د لایق په رباعیاتوکې جاري ژوند څپې وي، ځکه خو کله یې شاعرانه رنګیني ډېره لوځېږي.

خیام په خپلو رباعیاتوکې خرافاتو او موهوماتو سره مبارزه کوي. په رباعیاتوکې د هغه مخاطبین زاهدان، فقیهان او مذهبي مشران دي. خو د لایق په رباعیاتوکې د « دوران عصر د مضمون قهرمان» یا « د مدنیت د شخړي» یو لوبغاړي، یعني ملا او مذهبي مشر حضور پیدا کوي. د یوه لیکوال په قول، خیام په خپلو رباعیاتوکې پر دې فلسفي مفکوره تینګار کوي چې: پر دې ځمکه چې موږ ژوند کوو نه نیکمرغي شته او نه عاقبت، ماضې او راتلونکې دوه نیستی دي. هغه وایي د دغه دوه نیستو په منځ کې دم غنیمت ګڼل په کار دي.

خو لایق د ژوند او قابل لمس موجوداتو سره سرکار لري. هلته چې پښتو او پښتونواله مطرح کېږي نو د خوشحال روح یې په رباعیاتوکې غږوني کوي او کله چې د « د دوران د قهرمانانو » په لوپه کې ورګډېږي نو بیا پخپله لایق دی چې حضور لري. خو کله چې د یاس، حرمان او ناهیلی سره مخامخ کېږي، نو بیا زموږ د دوران ډېر ستر پرزېدلې خو د سارتر په قول د میدان ګټونکې شاعر دی.

پر نورو ادبیاتو سربېره په پښتو ادبیاتوکې موږ ځینې سنتونه وینو: که خوشحال بابا شعر ته مغولوالې او د پښتون بې اتفاقی او ځان ځانی د یاس او حرمان رنګ ورکړې نو آیا د تېرې پېړی پېښو په لایق د اثر نه دی کړی؟

که د غني پښتني غچ اخیستونکې ولولې د « بودایي ډوله»

چلندونو په اثر خپه شوي نو د هغه یاغي نظر یاس او نا هیلی او د
عمر شتاب او د ځوانی د رنگینیو یا د هغه د شعر په ژبه و نه نښېده؟
زما په نظر خو همداسې ده.

خو باید ووایو چې لایق رباعي یوازې د پند او نصیحت لپاره نه ده کارولی، بلکې لیندی ترې جوروي، غشې پکې بردي او گوزار کوي. لکه خوشحال بابا چې وایي:

چې رباعي د خوشحـــال خان دي
د لاجــوردبو غیشو په شان دي
تیرگر که هر څو غشي ښه روغ کا
پــرواز یې بویه که پریې وران دي

د لایق سپرغکې د غشو د گوزار لپاره لیندی ده. که د وطن خبره او د ولس خبره او د آزادی خبره کېږي نو هغه د جهاد، مجاهد، ملا پر لور غشي گوزاروي. خو که خپل زلمیتوب ته، خپل عمر ته، خپل غربت ته، خپلې ماضي ته او خپلې آزادی ته یې فکر کېږي نو بیا د پند او نصیحت خبره نه کا بلکې غشي بردي او په دې غشي ځان ژوبلوي چې په دې لړ کې چې ځان ژوبلوي نو د شعر «اور لوبه» گټي. څو مثالونه:

الف ــ

ماشومتیا څه ده یو ښکلی خوب و
زلمیتوب څه و یو لیونتـــوب و
کله چې زوړ شوم په عقل جوړ شوم
نړۍ یاغي وه ژونـــدون آشوب و

څومره ښایسته یې د جانان غمه
چې چېرې ځمه تا گــــرځومه
که ته ساحل یې زه دې څپه یم
چې څومې رټې بیــرته درځمه

ای څومره تریخ یې د غربت اوره
چې سرې ورکۀ کړې له خپله کوره

SPINTA

پرده د هېځ چا په چا کې نشته

یا خپله کوره یا خپله گوره

د هجوي سزا :

چا چې هجرت کا ما به غندلو

زه یو بې رحمه هجوي شاعر شوم

د وریتو شویو زړو له ښیراوو

وطن پردی شو زه مهاجر شوم

د ځوانۍ جواز :

یو ځلې راشه د ځوانۍ جوشه

چې جواز واخلم له نوشا نوشه

د زړښت ورځو په سپکو سپکۍ کړم

جومات ته ښتم له مې فروشه

لا راسره یې د ځوانۍ رنځه

ځگیروی دې اورم د زړه له منځه

ما په پردیو غموکې هېر کړې

چې څومې کنځې، هغو مې کنځه

چې څو راویښ شوم وخت رانه تېر شو

مرگه دمه شه چې کار مې ډېر شو

د شېبو لوبو پر ځان اخته کړم

هوس د عمر رانه چاپېر شو

د غربت حضیره :

په شنو لمنو وریځه خوره شوه

زموږ په زړونو لا توره شپه شوه

د یورپ خاوره چې جوره جنت دی

موږ ته غربت کې یوه حضیره شوه

SPINTA

د وطن باد:

یو ځل راخور شه د وطن باده

تر دې لـــــري مغـــرب آباده

زمــــا د شعر بلبل ګونګي شو

فریاد فــریاده، فریاد فــریاده

ځواني:

ای د ځوانیـــو د دوران یاده

د زخمـــي مینو یاغي فریاده

بې اوره ګالم دژمي ستونځې

یو ځل مې یاد کړه داد و بېداده

ب ـ

وطن او ملا:

وطنه ګوره دا دې څه حـــال شو

چې هر حرام دې غلو ته حلال شو

مور خپـلو خرو ته لا هڅې او پڅې وو

مـــلا ته ګوره چې خر دجال شو

د جنګ اورونه بیـا تازه کېږي

ملا حاکم شو دوزخ جوړېږي

د مـــلا عدل بې اوره نه شي

افغـــان وطن به جهنمېږي

مـــلا حاکـــم شو امتحـــاني شو

له حجـــري ووت سم میداني شو

په څو کـــــــلدارو پاکستـــاني شو

په څو ډالـــــرو امریکـــايي شو

مجاز او حقیقت:

ډېـــر مشران دي په صغارت کې

ډېـــر عالمــــان دي په جهالت کې

SPINTA

دا په ظاهره په نفلو بوخت دي

ډېر زاهدان دي په ضلالت کې

جهاد :

جهاد بل څه دي لوټ او غارت دي

د لوټمارانو يو سياست دي

په تالان جنګ دي د تالانګرو

د دښمنانو يو مصلحت دي

جهاد د خلکو تالا کول دي

هم سپکول دي ، هم ورکول دي

د نالوستلو ټوپکځ مارانو

د ټولو چارو حاکمول دي

جهاد پلمه:

جهاد پلمه ده د ورانولو

له يوي مخې د چورولو

آزاد جواز دی پاکستاني ته

د افغانانو د ختمولو

جهاد شعار شو د انګريزانو

د تالانګرو امريکايانو

سعودي يې راووست دافغان جنګ ته

صليب چلتار شو د عربانو

سپکې رېږي:

دې سپکو شويو رېږو ته ګوره

چې اور راشيندي له پردي کوره

خپل خلکځ وژني د بل له پاره

ورينداره بيايې له خپله وروره

ملا :

SPINTA

د مـــــلايانو توره نـــاورينه

زمـــا وطنه په وينه خـــوړينه

وخت رانيږدي دي وزر آزاد کړه

هم له سيـافه هم گلب الـــدينه

ج –

انقلاب :

انقـــلاب څه دي ياغي دريــاب دي

وحشي ټــکل دي سور انتخاب دي

د ستمــــــگرو زور او تيـــري ته

د سر شينـــدونکو خوني ځواب دي

انقـــلاب يووړه زموږ ســـرونه

ادايي نه کــــړه زموږ هـــوډونه

چې بې اودسه مـــلا امـــام شو

نه منـــل کېـــږي کړي مونځونه

گوند چې تکيه شو په شورويـــانو

جنــــون حاکم شو په انگـــريزانو

ملايې راووست په موږ يې سپور کړ

اوس ورته ټينـــــگ شی انقلابيانو

گوند :

مــــــوږ گوند جوړ کړ د مظلومانو

د وزر مـــــاتو د محـــــــرومانو

چې ســـــورور شو د زورور شو

زين کـــړي آس شو د جـــابرانو

گـــــوند يوه اډه شو د شيطـــانانو

د بې هـــــــدفه منافقـــــــانو

د مشق ميـــدان شو د هر يو پربوتي

د وطن پلــــــورو نعـــره بازانو

وطن یو گـــوند وو خو وروسته گند شو

د ځـان غوښتونکـــو په لومه گند شو

په جـــلا برخو ټـوټه ټـــوټه شو

مـوره مـوره شو پیـــوند پیـــوند شو

د گـــوند ناره وه د ویښولو

نه د تـــړلو ، نه د وژلـــو

یو ځومور غوي راکي پیدا شو

د نرخ او ځـــلي د سپـــکولو

د ـ

د مېراني ژبه :

پخپـــله هو چي څـوک باوري وي

مټ او چمبه یې د زمـــــري وي

چي هویې نه وي لیري تري گــرزه

که «باختري» وي که «خاوري» وي

د ښتون ځلي :

هـــوډونه څه دي د پښتون ځلي

لـــــوړ میثاقونه اولس منـــلي

یا لــوړي لــووړي له خولې وتلي

مشهــوري شوي په کــور او کلي

هوډ :

هـــوډ یو میثاق دی د اولسونو

د پښتــــــونوالي پر ناموسونو

انسان انسان شو پخپـــلو ژمنو

نه په پســـــونو نه په آســـونو

که پښتون نه وای :

که پښتون نه وای زه به یو بل ووم

یا به جاسوس ووم یا به یوغل ووم

اوس راښکاره شو په سیاست کې

که په هوډ نه وای زه به بدل ووم

افغان چې زخم د نام د ننګ شي

غیرت یې مړ شي هوډ یې تمام شي

هر اجنبي ته تر سپیو سپی شي

د هر پریوتي غلام غلام شي

د پښتون ځلی:

د پښتون ځلی ، ختلي غرونه

درنې خبرې، درانه خویونه

چې هویې وکړه بله به نشي

څویې په تن وي مغرور سرونه

وروستی خبرې:

غوارم خبرې د مرحوم استاد روهي په یوه یادونه او د هغې په توصیح پای ته ورسوم: استاد د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې د ښاغلی لایق په باب لیکي: «سلیمان لایق د ویښتیا د پړاو ستر شاعر او د اوښتون د پړاو لارښوونکې مثال او مشال دی. د لایق اکثر شعرونه د ګوندي ایدیالوجی په خم کې رنګ شویدي او له همدې امله دغه ستر استعداد لکه څنګه چې ښایې ونه پېژندل شو.» د روهي صیب دغه خبره یو ځه پام غوارې، خوزه یې داسې تعبیروم چې کېدای شي لایق او د هغه ګوندي سیاسي تګ لاره او ایدیالوژیکه لېدتوګه هغه په یوه صف کې درولي وي. هغه یې له یوې کتلې خلکو جلا کړی او بلې ته یې نږدې کړی وي. خو دا هم له پامه لیري نه ساتو چې د هغه نور داسې آثار هم شته چې د هغه د «شاهنامه یې» اغیز څخه په بیلا بیلو قطبونو چې څوک نه شي منکریدای .

بله دا چې د شاعر او هنرمند د کار ارزیابي په کلیت کې مطرح ده، نه په جزییاتو او ځېنې ځانګړو برخو کې.

په هر صورت کله چې په واقعي او عیني توګه قضاوت

کوو باید ووایو چې لایق د یو هنرمند، یوه انځورګر او یوه ښه شاعر په توګه بې مثاله دی. دا چې ځیني کسان په مرکو او تبصروکې پر هغه تور لګوي چې ګویا لایق ایدیالوجي منزوي کړ. سم د واره دا پوښتنه مطرح کېږي چې آیا همدغه کسان د یو خاص لید له مخې یا د یوه خاصي ایدیالوجې له مخې دا قضاوت نه کوي ؟ چې کوي یې. اړه نه وینم چې دلته د ایدیالوجی فلسفي مفهوم راوسپړم، ځکه دا مفهوم اوس له بدیهیاتو څخه او څرګند دی. موږ په سیاستونو خبرې نه کوو، په شعر خبرې کوو او کله چې شعر ته راځو نو د روهي صیب دا خبره داسې تعبیروو چې لایق د هغه د شعري استعداد پر مقیاس اوس هم لږ پېژندل شوي دي، یا په بل عبارت په دې لا اوس هم د سیاستونو ګرد پروت دي باید دا ګرد پاک او د لایق هنري فکر پېژندنه شفافه شي.

دا سمه خبره ده چې د لایق په آثاروکې د ټولنیز تعهد مساله په قوت مطرح ده چې د چا په کلام او اثرکې د شاعر د ذهنیت او تفکر مطرح نه دی. دا چې یو شعر څرنګه وکړای شي د خلکو تر شعاره اوج ته ورسېږي باید ذاتي جوهر ولري دا بل بحث دي. هدف دا دي چې که چېرې د شاعر شعر د خلکو د خولې ورد ګرځي نو قوي ذاتي جوهر به لري او له هغه څوک انکار نه شي کولی. نیمه پېړی او له هغه زیاته موده کې چې چونغر زېږېدلي دي او بادبان په توفانونوکې کاروان ته سمت او لوري ورکړې دی آیا د نسلونو په غوږونوکې یې ازانګې نه دې کړي چې ارومرو کړي یې دي.

د لایق په شعرکې هیله او امیدونه څپې وهي. د هغه شعر د ویلاړ او عظمت د روزنې او راپارونې او هستونې زردښتي او سپېڅلی اور دی. دا اور به تل د افغان په کېږدیو، کوډلو، کنډرو کورونو دښتو او ښارونوکې بل وي، ځلېږي به او تودوخه به یې د نسلونو په روح او تن احساسېږي.

پای